COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

د کووډ-19 واکسینونه ژوند ژغوري!

کووډ-19 څه شی دی؟



کووډ-19 یوه ناروغي ده. **دي ته کوروناویروس هم ویل کیږي.** **کووډ-19 له یو شخص څخه بل ته خپریږي.** ډېرې خلک چې په کووډ-19 اخته شي نو یو څه ناروغه شي او په کور کې ښه شي. خو نور خلک سخت ناروغیږي. د ځینو خلکو روغتیایي ستونزې حتی وروسته لدې چې دوي نور کووډ-19 ونلري هم، دوام مومي.

خلک کیدای شي د کووډ-19 له امله روغتون کې بستر شي او حتی مړه شي. له همدې امله ده چې د کووډ-19 واکسین (پیچکارۍ) لګول ډېر مهم دي.

واکسین څه شی دی؟



واکسین یو درمل دی چې د پیچکارۍ په ښه وي. واکسینونه د اوږدې مودې لپاره د ناروغیو سره د مبارزې په موخه کارول کیږي. مونږ کې ډېریو ښپلابیل واکسینونه کړي دي. دوي مونږ د شړي او کوڅک (chickenpox) په څیر ناروغیو څخه ساتلی یو. او مونږ کې ډېر هر کال د انفلوینزا واکسین یوه پیچکارۍ لګوي.

د کووډ-19 واکسینونه څه شی دي؟

په متحده ایالاتو کې د کووډ-19 ښپلابیل 3 واکسینونه شته چې د فایزر (Pfizer)، مودرنا (Moderna) او جانسن او جانسن (Johnson & Johnson) په نوم شرکتونو لخوا جوړ شوي دي. دا ټول ډېر ښه کار کوي او وړیا دي. هغه خلک چې دا پیچکارۍ لګوي په کووډ-19 د اخته کېدلو احتمال يې خورا کم دی. که دوي په کووډ-19 اخته شي، نو واکسینونه دوي د سختې ناروغۍ، روغتوني پاملرنې ته د اړتیا او مړینې څخه ساتي.

د فایزر او مودرنا سره تاسو باید 2 پیچکارۍ ولګوئ. تاسو باید دواړه پیچکارۍ ولګوئ ترڅو واکسین ښه کار وکړي. خلک باید د کووډ-19 "پیاوړي کوونکي" پیچکارۍ هم کله یې چې وار راشي، ولګوي. پیاوړي کوونکي پیچکارۍ یوه اضافي پیچکارۍ ده چې ستاسو بدن د کووډ-19 پروړاندې ځواکمن ساتي. د نورو معلوماتو لپاره د پیاوړي کوونکي دوز د حقایقو پاڼه وګورئ.

ایا د کووډ-19 واکسینونه خوندي دي؟

هو! دوي په لسګونو زرو خلکو ازمایل شوي دي. دوي باید د خوندیتوب سخت مقررات پوره کړي. په ملیونونو خلکو د کووډ-19 واکسینونه ترلاسه کړي.

د واکسین ترلګولو وروسته، ځینې خلک د مټ درد لري یا داسې احساسوي لکه دوي چې انفلوینزا لري. دا معمولاً یواځې څو ورځې دوام کوي. د سختو اړخیزو اغېزو احتمال ډېر لږ دی. د کووډ-19 د پیچکاریو ګټې د خطرونو په پرتله خورا ډېرې دي.

د مرستې اونورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره

د یوه واکسین ترلاسه کولو مرسته:
د GoVax ملاتړي مرکز ته زنګ ووهئ یا له بل کس وغواړئ چې ستاسو پرځای زنګ ووهي:
855-MD-GoVAX (855-634-6829)

نور معلومات:
لاندینی QR کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)، یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine /

وروستي خبرونه:
په ټویټر کې @GoVAXMaryland تعقیب کړئ.

د لاندینې QR کوډ په کارولو سره د بریښنایي خبرلیکونو لپاره نوم لیکنه وکړئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)، یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/ content/vaccine/govax/

ولې باید د کووډ-19 واکسین ولګوم؟

دا د کووډ-19 څخه د ځان او نورو د ساتنې لپاره خوندي لاره ده. د کووډ-19 واکسینونه ژوند ژغوري.

په مریلینډ (MARYLAND) کې څوک واکسین ترلاسه کولای شي؟

هر هغه څوک چې عمر یې 5 کاله یا ډیر وي کولای شي د کووډ-19 پیچکارۍ ولګوي.

زه په مریلینډ کې چیرته واکسین ترلاسه کولای شم؟

تاسو کولای شئ د کووډ-19 پیچکارۍ په درملتونونو، د ډاکټرانو معاینه خانو، د بیرنۍ پاملرنې کلینیکونو او د مریلینډ په ټولو سیمه ایزو روغتیایي څانګو کې ولګوئ.

د دې موندلو لپاره چې تاسو د کووډ-19 پیچکارۍ ځان ته نیږدې چیرته لګولای شئ، دې ته ورشئ: covidvax.maryland.gov.

که زه هغه ځای ته د رسېدو لپاره مرستې ته اړتیا ولرم چیرته چې د کووډ-19 پیچکارۍ ورکول کیږي، نو بیا؟

(855-634-6829) 855-MD-GoVAX-ته زنګ ووهئ، یا بل کس ستاسو پرځای زنګ وهلای شي. د GoVAX ملاتړي مرکز به مرسته وکړي ترڅو معلومه کړئ چې څه ډول ملاتړ د لاسرسي وړ دی.

د ټولنیز ژوند لپاره د متحده ایالاتو د اداري، د روغتیا او بشري خدمتونو د څانګې، Washington, D.C. 20201 لخوا د CFDA 93.630 شمیرې تخصیص له لارې د دې پروژې یوې برخې ملاتړ شوی وو. هغه امتیاز اخیستونکي چې د دولت د سپانسرشپ سره په پروژو لاس پورې کوي، هڅول کیږي چې خپلې موندنې او پایلیزې په آزادانه توګه څرګندې کړي. ځکه خو، اندونه یا نظرونه هرومرو د ACL رسمي پالیسۍ استازیتوب نکوي.

COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

د هغو خلکو لپاره واکسین چې کور نشي پرېښودلای

زه څه وکړم که خپل کور نشم پرېښودلای؟

اندېښنه مه کوئ - تاسو د خپل کووېډ-19 پیچکاري په کور کې ترلاسه کولای شئ!

د مریلینډ د روغتیايي څانګې د کووېډ-19 د واکسین ملاتړی مرکز مرستې ته چمتو دی. دا د GoVax په نوم یادیږي.

زه څنګه کولای شم په کور کې د کووېډ واکسین ترلاسه کړم؟

(855-634-6829 (MD-GoVAX ته زنګ ووهئ، یا بل کس ستاسو پرځای زنګ وهلای شي.

GoVAX به له تاسو معلومات ترلاسه کړي. وروسته به بیا، یو څوک تر هغې تعقیب کړي چې تاسو ته داسې یو پلان ترتیب کړي ترڅو په کور کې د کووېډ واکسین ترلاسه کړئ.

زه د کووېډ-19 ملاتړي مرکز ته کوم وخت زنګ وهلای شم؟

د GoVAX ملاتړی مرکز د اونۍ په هره کاري ورځ پرانستی وي. تاسو کولای شئ هر وخت د 7 a.m. او 10 p.m. ترمنځ زنګ ووهئ

د مرستې او نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره

وروستي خبرونه:

د بریښنایي خبرلیکونو لپاره د نوم لیکنې په موخه د QR دا کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)، یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine/govax

په ټویټر کې @GoVAXMaryland تعقیب کړئ.

مرسته او نور معلومات:

تاسو زنګ ووهئ: (855-634-6829 (MD-GoVAX

د QR دا کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ).
یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine

د ټولنیز ژوند لپاره د متحده ایالاتو د اداري، د روغتیا او بشري خدمتونو د څانګې، Washington, D.C. 20201 لخوا د CFDA 93.630 شمیري تخصیص له لارې د دې پروژې یوې برخې ملاتړ شوی وو. هغه امتیاز اخیستونکي چې د دولت د سپانسرشپ سره په پروژو لاس پورې کوي، هڅول کېږي چې خپلې موندنې او پایلیزې په آزادانه توګه څرګندې کړي. ځکه خو، اندونه یا نظرونه هرومرو د ACL رسمي پالیسۍ استازیتوب نکوي.

COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

پياوړې کوونکې پيچکارۍ د کووډ-19 پر وړاندې ځواکمن ساتي شئ

د کووډ-19 پياوړې کوونکې پيچکارۍ څه شی دی؟

يوه پياوړې کوونکې پيچکارۍ يوه اضافي پيچکارۍ ده چې ستاسو بدن د کووډ-19 پروړاندې خواکمن ساتي. پياوړې کوونکې پيچکارۍ تاسو ته لا ډير درمل درکوي چې ستاسو په ساتنه کې مرسته کوي. تاسو د کووډ-19 معمولو پيچکاريو لګولو څخه مياشتې وروسته يوه پياوړې کوونکې پيچکارۍ لګوئ. د جزئياتو لپاره لوستلو ته دوام ورکړئ.

ولې زه بايد پياوړې کوونکې پيچکارۍ ولګوم؟

ستاسو ساتنه کيږي. که تاسو پياوړې کوونکې پيچکارۍ ولګوئ نو دا چانس کمږي چې تاسو دې په کووډ-19 اخته شئ او نورو ته يې خپور کړئ.

څوک پياوړې کوونکې پيچکارۍ لګولای شي؟

ټول 16 کلن او ډير عمر لرونکي مريلينډيان کولای شي د کووډ-19 يوه پياوړې کوونکې پيچکارۍ ولګوي. دا چې څوک پياوړې کوونکې لګولای شی ښايي بدلون وموميږ. د وروستي معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د دې پاڼې ښي خوا ته په ژيړ بکس کې د اړيکو معلومات وکاروئ.

زه يوه پياوړې کوونکې پيچکارۍ څه وخت لګولای شم؟

که د کووډ-19 معمول پيچکارۍ مو لګولې وي له:

- **فايزر يا موډرنا څخه:** نو تاسو يوه پياوړې کوونکې پيچکارۍ لګولای شئ **6 مياشتې** وروسته له خپلې دويمې پيچکارۍ څخه.
- **جانسن او جانسن څخه:** نو تاسو **2 مياشتې** وروسته يوه پياوړې کوونکې پيچکارۍ لګولای شئ.

زه کومه پياوړې کوونکې پيچکارۍ ولګوم؟

تاسو د دريو پياوړو کوونکو پيچکاريو څخه يوه غوره کولای شئ. دوي ټول ښه کار کوي. هغه درې شرکتونه چې دا معمول کووډ-19 پيچکارۍ جوړوي، پياوړې کوونکې پيچکارۍ هم جوړوي. دوي فايزر، موډرنا، او جانسن او جانسن دي. تاسو اړتيا نلرئ د همهغه شرکت لخوا جوړه شوې پياوړې کوونکې پيچکارۍ ولګوئ چې ستاسو معمول کووډ-19 پيچکارۍ يې جوړه کړې وي.

زه يوه پياوړې کوونکې پيچکارۍ چېرته لګولای شم؟

د دې مونډلو لپاره چې تاسو د کووډ-19 پياوړې کوونکې پيچکارۍ ځان ته نېږدې چېرته لګولای شئ نو:

- covidvax.maryland.gov ته ورشئ.
- 855-MD-GoVAX (855-634-6829) ته زنګ ووهئ.

د مرستې او د پياوړو کوونکو پيچکاريو په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره

د يوه پياوړې کوونکې ترلاسه کولو مرسته:

د GoVax ملاتړي مرکز ته زنګ ووهئ يا له بل کس وغواړئ چې ستاسو پرځای زنګ ووهي:
855-MD-GoVAX (855-634-6829)

نور معلومات:

د QR دا کوډ وکاروئ (د خپل تليفون کيمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرين کې لارښوونې تعقيب کړئ).

يا دا ويب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine/booster-shots/

وروستي خبرونه:

په ټويټر کې @GoVAXMaryland تعقيب کړئ.

د بريښنايي خبرليکونو لپاره د نوم ليکنې په موخه دا ويب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine/govax/

د ټولنيز ژوند لپاره د متحده ايالاتو د اداري، د روغتيا او بشري خدمتونو د څانګې، Washington, D.C. 20201 لخوا د CFDA 93.630 شمېرې تخصيص له لارې د دې پروژې يوې برخې ملاتړ شوی وو. هغه کسان چې د دولت سپانسرشپ سره پروژې ترسره کوي هڅول کيږي چې په آزاده توګه خپلې موندنې او پايلې څرګندې کړي. ځکه خو، اندونه يا نظرونه هرومرو د ACL رسمي پاليسي استازيتوب نکوي.

COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

دوهم تقویه کوونکی واکسین خوندی پات شئ

د COVID-19 تقویه کوونکی واکسین ه شی دی؟

یو پیاوړی شا یو اضافی شا دی، چې ستاسو بدن د COVID-19 پرو اند قوی ساتی.
یو پیاوړی کوونکی شا تاسو ته یر درمل درکوی، کوم چې ستاسو په ساتنه ک مرسته کوی. ین هغو کسانو چې له و اند ی تقویه کوونکی واکسین اخیستی، کولی شی دوهم تقویه کوونکی واکسین هم ترلاسه ک ی. کې چې ر تاسو د چنل لوم COVID-19 تقویه کوونکی واکسین نه وی ترلاسه ک ی، نو د تقویه کوونکی واکسینو حقیقت پا ه و وړئ.

ول باید زه دوهم تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک م؟

کې چې ر تاسو خوندی پات شئ. نو داس کم چانس شتون لری، چې تاسو د COVID-19 له املې یر نارو غه شئ یا رو غتون ته د ت ا تیا ولړئ.

وک کولی شی، چې دوهم تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک ی؟

تاسو کولی چې دوهم تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک ئ، په د شرط چې :

- 12 کاله یا له هغه خه یر عمر او "د معافیت کموالی ولړئ." د معافیت د کموالی معنی دا ده، چې تاسو د عضوی پیوند درلودئ یا په داس شرایطو ک یاست، چې په ک ستاسو بدن ته د ناروغ سره مبارزه ستونزمنه کوی.
- 18 کلن یا له هغه خه یر عمر لرئ او ستاسو مشم COVID-19 تقویه اولوم ی تقویه کوونکی واکسین د جانسن او جانسن خه وړ یا
- 50 کلن یا له هغه خه یر.

وک کولی شئ تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک ی، ممکن بدلون ومومی. د ورو ستیو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د ا یکو لاند معلومات وکاروئ.

ه وخت زه کولی شم چې دویم تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک م؟

لور میاشت یا له هغ یر وروسته چې تاسو چنل لوم ی COVID-19 تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک .

زه کوم دوهم تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک م؟

کې چې ر تاسو 12-17 کلونو پور عمرئ لرئ، نو د Pfizer. نخا جو شوی تقویه کوونکی واکسین ترلاسه کولی ئ. کې چې ر تاسو 18 یا کلن یا له خه ر عمر ولرئ، نو تاسو کولی ئ د Pfizer یا Moderna نخا جو شوی تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک ئ. تاسو ا تیا نه لرئ د همغه شرکت نخا جو شوی دوهم تقویه کوونکی واکسین هم ترلاسه ک ئ، چې ستاسو تر د COVID-19 عادی واکسین یا لوم ی تقویه کوونکی واکسین ترلاسه ک ی دی. دوی دوا ه ه کار ورکوی.

زه له کوم ای خه دوهم تقویه کوونکی واکسین ترلاسه کولی شم؟

د د لپاره چې تاسو د COVID-19 تقویه کوونکی واکسین له کوم تر ول ن دی ای خه ترلاسه کولی شئ:

- وغ پت ته سرور کاره ک ئ covidvax.maryland.gov.
- د GoVax ملات مرکز ته زن ووهئ، یا وک وغوا ئ چې تاسو ته زن ووهي: 855-634-6829 (855-MD-GoVAX).

د نه پروژه د متحده ایالاتو نخا د د و یا مرست شمیره CFDA 93.630 نخا ملات شو ده. د ولس ز ژوند اداره، د روغتیا او بشری خدمتونو ران ه، واشن ن ی سی. 20201. هغه مرست چې د دولت په سپانسرشپ سره پروژ ترسره کوی ه ول کی ی، چې په آزاده تو ه چنل موندن او پایل ر ند ک ی. له همه املې، د نظر هم نقطه یا نظرونه د ACL د رسی پالیسی استازیتوب نه کوی.

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE • IMPROVING LIVES

COVID-19 FYI

د وړو ماشومانو لپاره د واکسین قطري چې له 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې عمرونه یې وي

ایا واړه ماشومان کولی شي د کووډ-19 واکسین ترلاسه کړي؟

هو. له 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې ماشومان کولی شي د کووډ-19 واکسین(قطري) ترلاسه کړي. واکسین ورپرې دي.

ایا د کووډ-19 واکسینونه د وړو ماشومانو لپاره خوندي دي؟

هو! دا د 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې په زرګونو ماشومانو باندې ازمایل شوي دي. ازموینو ښودلې ده چې د واکسین قطري خوندي دي او د کووډ-19 څخه د وړو ماشومانو په ساتنه کې مرسته کوي. هغه واړه ماشومان چې د واکسین قطري یې اخیستي کومې جدي اړخیزې اغیزې نلري.

ایا زه باید خپل ماشوم ته د کووډ-19 واکسین ولګوم؟

هو، پرته لدې چې ستاسو د ماشوم ډاکټر داسې ووایي چې دوی باید د کووډ-19 واکسین ونه لګوي. د هر عمر ماشومان، په شمول د تازه پیداشوو ماشومانو او تازه ګرځیدونکو ماشومانو، کولی شي د کووډ-19 واکسین ولګوي. دوی کولی شي دا نورو ته هم خپور کړي، اګر که دوی نښې نښانې هم ونه لري.

د واکسین قطري ستاسو د ماشوم، ستاسو کورنۍ او نورو لپاره د کووډ-19 څخه د ساتنې لپاره خوندي لاره ده.
نو، دا ژر تر ژره ترلاسه کړئ!

دا حقیقت پاڼه د هغو ماشومانو په اړه ده چې د 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې وي. که غواړئ نوري حقیقت پاڼې وګورئ ترڅو د نورو عمرونو او واکسین په اړه معلومات ترلاسه کړئ:

← دا QR کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د مربع په کوډ برابر کړئ او په سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)، یادې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ:
https://www.md-council.org/covid-19

وارِه ماشومان کوم واکسین ترلاسه کولی شي؟

د 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې ماشومان کولی شي Pfizer یا Moderna د واکسین قطرې ترلاسه کړي. که تاسو Pfizer غوره کړئ، تاسو ته به 3 قطرې لګول کیږی. که تاسو Moderan غوره کړئ، تاسو ته به 2 قطرې لګول کیږی. تاسو به د واکسین قطرو تر مینځ په اونیو انتظار کوئ په هغه ځای کي چې تاسو خپل لومړی قطره ولګوئ تاسو ته به ووایی چې کله بیا راشئ.



د 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې ماشومانو لپاره د واکسین دوز د غټو ماشومانو او ځوانانو په پرتله کوچنی دی. په قطرو کي کم درمل شتون لري ځکه چې دوی کوچني دي.

زه په ماریلینډ کي کوم ځای کي واکسین لګولی شم؟

تاسو کولی شئ د کووډ-19 واکسین قطرې په ټول ماریلینډ کي په **درملتونونو، د ډاکټرانو په دفترونو، د عاجل پاملرنې کلینیکونو، په شوونځیو کي کلینیکونه، او سیمه ایز روغتیا ځانګو کي** ولګوئ.

دا پروژه د متحده ایالاتو لخوا د CFDA 93.630 مرستې شمیرې لخوا ملاتړ شوې. د ټولنې د ژوند اداره، د روغتیا او بشري خدماتو ځانګه، واشنګټن ډي سي. 20201. هغه مرسته کړل شوې خلک چې د دولت په حمایت پروژې ترسره کوي هڅول کیږي چې په آزاده توګه خپلې موندنې او پایلې څرګندې کړي. له همدې امله، د نظر نقطې یا نظرونه د ACL رسمي پالیسی استازیتوب نه کوي.

که غواړئ مرسته او نور معلومات ترلاسه کړئ

د واکسین په ترلاسه کولو کي مرسته:
د GoVax د مرستې مرکز ته زنګ ووهئ، یا داسې څوک ولرئ چې تاسو ته زنګ ووهي:
855-MD-GoVAX (855-634-6829)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره یا د خپل ماشوم د کووډ-19 د واکسین قطرو لپاره د ملاقات مهالویش تنظیم کړئ:
دا QR کوډ وکاروئ(د خپل تلیفون کیمره د مربع په کوډ برابر کړئ او په سکرین کي لارښوونې تعقیب کړئ)، یا دې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ:
https://covidlink.maryland.gov/

وروستي خبرونه:

په ټویټر باندې @GoVAXMaryland تعقیب کړئ.

د لاندې QR کوډ په کارولو سره د بریښنایی خبرونو لپاره ځان ثبت کړئ(د خپل تلیفون کیمره د مربع په کوډ برابر کړئ او په سکرین کي لارښوونې تعقیب کړئ)، یا دې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine/govax/

COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

د 5-11 کلنو ماشومانو لپاره د کووډ-19 واکسینونه

ایا 5 تر 11 کلن ماشومان د کووډ-19 پیچکارۍ لګولای شي؟

هو. د 5 څخه تر 11 کلونو پورې ماشومان د فایزر لخوا جوړې شوې د کووډ-19 پیچکارۍ لګولای شي.

ایا دا هماغه واکسین دی چې زړو، تنکیو ځوانانو او لویانو ته ورکول کیږي؟

هو، خو دوز (د درملو اندازه) یې لږ دی. د 5-11 کلنو ماشومانو لپاره د کووډ-19 پیچکارۍ دېرې زیاتې د هغو پیچکاریو په ځیر دي چې 12 کلنو، تنکیو ځوانانو او لویانو ته ورکول کیږي. ماشومان د دریو اونیو په واټن سره دوه پیچکارۍ لګوي.

ایا د کووډ-19 واکسینونه د ماشومانو لپاره خوندي دي؟

هو! دوي له 5 تر 11 کلنو په زرګونو هغو ازمایل شوي دي. دوي باید د خوندیتوب سخت مقررات پوره کړي. د خوړو او درملو اداري (FDA) د فایزر کووډ-19 پیچکارۍ 5 تر 11 کلنو ماشومانو ته د بېرنۍ کارونې لپاره منظور کړې دي. کووډ-19 په ټوله نړۍ کې په اسانۍ او چټکۍ سره خپریږي ځکه خو دا یو بېرنۍ حالت ګڼل کیږي.

ایا زه باید خپل ماشوم ته د کووډ-19 واکسین ولګوم؟

هو، خو نه هغه وخت چې ستاسو د ماشوم ډاکټر ووایي چې ماشوم باید د کووډ-19 پیچکارۍ ونه لګوي.
هغه ماشومان چې پیچکارۍ یې نه وي لګولې د کووډ-19 سره سخت ناروغه کېدای شي، د روغتون پاملرنې ته اړتیا لري او حتی مړه کیږي. حتی که تاسو پوه نشئ چې دوي دا ناروغي لري هم دوي په اسانۍ سره نورو ماشومانو او لویانو ته کووډ-19 خپرولای شي.

په متحده ایالاتو کې له 6 ملیونو څخه ډېر ماشومان په کووډ-19 اخته شوي:

- لسګونه زره یې په روغتون کې بستر شوي.
- نېږدې نیمایي یې روانې ستونزې لري چې ښایي د اونیو، میاشتو یا لا اوږدې مودې لپاره دوام وکړي. په ماشومانو کې په کووډ-19 پورې اړوند شاوخوا 100 روانې روغتیایي ستونزې شته.
- له 500 څخه ډېر ماشومان د کووډ-19 له امله مړه شوي.

پیچکارۍ ستاسو د ماشوم، ستاسو کورنۍ او نورو لپاره د کووډ-19 څخه د ساتنې یوه خوندي لاره ده. نو، ژرترژره یې ولګوئ!

ایا اړخیزې اغیزې لري؟

5-11 کلن ماشومان ښایي د پیچکاریو له امله ځینې اړخیزې اغیزې پیدا کړي. دا یوه عادي نښه ده چې د دوي بدن د کووډ-19 پروړاندې ساتنه رامینځته کوي. **ځینې ماشومان ښایي هیڅ اړخیزې اغیزې تجربه نکړي.**

اړخیزې اغیزې معمولاً خفیفې وي او ډېر وخت دوام نه کوي.
ستاسو ماشوم ښایي په هغه ځای کې یو څه درد، سوروالی او پرسوب ولري چې دوي ته پیچکارۍ پکې شوې. دوي ښایي د ستړیا احساس وکړي، د سر، عضلاتو او بندونو دردونه، لږ تبه او زکام ولري.

داسې نادرې پېښې شته چې پیچکاریو د هغو تنکیو ځوانانو او لویانو د زړه په عضلاتو اغیزه کړې کومو چې د کووډ-19 پیچکارۍ لګولې وي. هغه ناروغۍ چې دوي پرې اخته کیږي د مایوکارډایټس (myocarditis) او پیریکارډایټس (myocarditis) په نوم یادیږي. په متحده ایالاتو کې په لسګونو ملیونه خلکو د کووډ-19 پیچکارۍ ترلاسه کړې، او له 1000 څخه لږو دا ستونزه درلوده.

ډېرۍ یې نوي ځوان شوي هلکان او نارینه ځوانان وو.

د کووډ-19 د پیچکاریو ګټې د خطرونو په پرتله خورا ډیرې دي.

ایا دا سمه ده چې د نورو واکسینونو سره په ورته وخت کې د کووډ-19 یوه پیچکارۍ ولګوو؟

هو. د نورو پیچکاریو سره په ورته وخت کې د کووډ-19 پیچکاریو لګول خوندي دي. پدې کې د انفلوینزا پیچکارۍ شامله ده

زه په مریلینډ کې چیرته یو واکسین لګولای شم؟



تاسو کولای شئ د 5 تر 11 کلنو لپاره د کووډ-19 پیچکارۍ په درملتونونو، د ډاکټرانو معاینه خانو، د بیرنۍ پاملرنې کلینیکونو، په ښوونځیو کې شته کلینیکونو او د مریلینډ په ټولو سیمه ایزو روغتیایي څانګو کې ولګوئ.

د دې موندلو لپاره چې تاسو د کووډ-19 پیچکارۍ ځای ته نېږدې چیرته لګولای شئ، دې ته ورشئ: covidvax.maryland.gov.

ایا د ښوونځي لپاره د کووډ-19 واکسین اړین دی؟

نه. ماشومان اړ نه دي چې ښوونځي ته د تللو لپاره د کووډ-19 پیچکارۍ وکړي.

د ټولنیز ژوند لپاره د متحده ایالاتو د اداري، د روغتیا او بشري خدمتونو د څانګې، Washington, D.C. 20201 لخوا د CFDA 93.630 شمیرې تخصیص له لارې د دې پروژې یوې برخې ملاتړ شوی وو. هغه امتیاز اخیستونکي چې د دولت د سپانسرشپ سره په پروژو لاس پورې کوي، هڅول کېږي چې خپلې موندنې او پایلیزې په آزادانه توګه څرګندې کړي. ځکه خو، اندونه یا نظرونه هرومرو د ACL رسمي پالیسۍ استازیتوب نکوي.

د مرستې او نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره

د یوه واکسین ترلاسه کولو مرسته:
د GoVax ملاتړي مرکز ته زنګ ووهئ یا له بل کس وغواړئ چې ستاسو پرځای زنګ ووهي:
855-MD-GoVAX (855-634-6829)

د نورو معلوماتو لپاره یا د خپل ماشوم د کووډ-19 پیچکاریو لپاره د یوه ملاقات ټاکلو په موخه:
لاندینی QR کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)،
یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/

وروستي خبرونه:
په ټویټر کې @GoVAXMaryland تعقیب کړئ.

د لاندیني QR کوډ په کارولو سره د بریښنایي خبرلیکونو لپاره نوم لیکنه وکړئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)،
یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/ content/vaccine/govax/

COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

هغه روغتیايي وضعیتونه یا ناروغۍ چې خلک په **لوړ خطر** کې اچوي

لوړ خطر په څه معنی دی؟

د لوړ خطر درلودل پدې معنی دي چې که چیرې تاسو په کووېډ-19 اخته شئ نو تاسو د نورو خلکو په پرتله **ډیر چانس لرئ** چې سخت ناروغه شئ، روغتون ته لاړ شئ، او حتی مړه شئ.

څوک په کووېډ-19د اخته کیدو په لوړ خطر کې دی؟

د مشرانو لویانو دا احتمال ډېر دی چې د کووېډ-19 سره سخت ناروغه شي. **هغه مشران لویان چې د کووېډ-19 پیچکارۍ یې نه وي لګولې** ډیر احتمال یې شته چې د کووېډ-19 له امله په روغتون کې بستر شي یا مړه شي.

هغه خلک چې لاندې طبي وضعیتونه لري ډیر احتمال پې شته چې د کووېډ-19 سره سخت ناروغه شي:

- دماغي سکته (Stroke) یا د دماغي رګونو ناروغۍ
- د مخدره توکو د استعمال اختلال (لکه الکول، اوپیوید، یا کوکاین)
- نرۍ رنځ
- کمزورۍ معافیتي سیستم
- د زړه ناروغۍ
- د مزاج اختلالات
- د غړو یا د وینې سټیم سیل ټرانسپلانټ
- ډیر وزن او خړبښت
- امېدواري
- د سیکل سیل ناروغي
- سګرټ څکونکي - اوس یا تیرو وخت کې یې سګرټ څکول
- سرطان
- د پښتورګو مزمنه ناروغي
- د ځیګر مزمنه ناروغي
- د سږو مزمنه ناروغۍ
- عقلي زوال (Dementia) یا نورې عصبي ناروغۍ
- د شکرې ناروغۍ
- ډاون سنډروم

که د خپل لوړ خطر والي څخه ډاده نه اوسم نو څه کولای شم؟

که د خپل لوړ خطر والي څخه ډاده نه یاست نو **خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ**.

زه باید څه وکړم که په لوړ خطر کې اوسم؟

د هر چا لپاره دا ډېره مهمه ده چې د کووېډ-19 پیچکارۍ یې ولګوي.

که تاسو لوړ خطر کې یاست نو بیا خو دا لا پسې ډېره مهمه ده چې پیچکارۍ مو ولګوئ. پدې کې د پیاوړي کوونکي پیچکارۍ لګول شامل دي.

دا هم ډېره مهمه ده چې تاسو سمدلاسه له خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ که چیرې:

- تاسو په کووېډ-19 اخته شئ.
- تاسو د هغه چا شاوخوا واست چې کووېډ-19 لري.

ستاسو ډاکټر تاسو ته وبلای شي چې د شونتیا تر بریده د ځان روغ او خوندي ساتلو لپاره څه باید وکړئ.

د ټولنیز ژوند لپاره د متحده ایالاتو د اداري، د روغتیا او بشري خدمتونو د څانګې، Washington, D.C. 20201 لخوا د CFDA 93.630 شمیرې تخصیص له لارې د دې پروژې یوې برخې ملاتړ شوی وو. هغه امتیاز اخیستونکي چې د دولت د سپانسرشپ سره په پروژو لاس پورې کوي، هڅول کېږي چې خپلې موندنې او پایلیزې په آزادانه توګه څرګندې کړي. څکه خو، اندونه یا نظرونه هرومرو د ACL رسمي پالیسی استازیتوب نکوي.

COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

د کووډ-19 درملنه: د مونوکلونل انټي بادي درملنه

ایا د کووډ-19 کومه درملنه هم شته؟

د کووډ-19 لپاره یوه درملنه شته. دې ته "د مونوکلونل انټي بادي درملنه" ویل کیږي. دا د طبي کلمو څخه جوړ یو نوم دی چې پرې پوهیدل سختیږي. لاندې معلومات تشریح کوي چې دا څه معنی لري او د چا لپاره دی.



د مونوکلونل انټي بادي درملنه څه ده؟

کله چې تاسو ناروغ یاست، ستاسو بدن د ناروغۍ سره د مبارزې لپاره "انټي بادي" جوړوي. مونوکلونل انټي بادي ګاني هغه انټي بادي ګاني دي چې په یوه لابراتوار کې جوړې شوي وي. دوي د یوې ستنې له لارې خلکو ته ورکول کیږي. په لابراتوار کې جوړې شوې انټي بادي ګاني کټ مټ د هغو انټي بادي ګانو په څیر کار کوي چې ستاسو بدن یې جوړوي. دا هغه اضافي مرسته ده چې ستاسو بدن ورته اړتیا لري ترڅو د کووډ-19 سره مبارزه وکړي. **که د کووډ-19 ټسټ مو مثبت شي، نو سمدلاسه له خپل ډاکټر څخه وغواړئ چې که د مونوکلونل انټي بادي درملنه تاسو لپاره مناسبه وي.**

ایا د مونوکلونل انټي بادي درملنه د کووډ-19 علاج دی؟

نه، دا د کووډ-19 یو علاج نه دی. خو دا د هغو خلکو یوه مهمه درملنه ده چې په کووډ-19 ناروغیږي. دا کولای شي تاسو په کووډ-19 باندې د سختې ناروغۍ له اخته کېدو څخه وساتي او د روغتون څخه ستاسو د بهر ساتلو کې درسره مرسته وکړي.

ایا زه د کووډ-19 پیچکاریو پر ځای د مونوکلونل انټي بادي درملنه ترلاسه کوم؟

نه! دا درملنه د کووډ-19 پیچکاریو پر ځای نده. د کووډ-19 څخه د ځان ساتلو لپاره د خپلو پیچکاریو لګول مو ډېر مهم دي.

ایا د مونوکلونل انټي بادي درملنه کار کوي؟

طبي څېړنو مونږ ته ښوولي چې **د مونوکلونل انټي بادي درملنې له امله تر پخوا لږ خلک په کووډ-19 باندې سخت ناروغیږي.** او تر پخوا لږ خلک بېرنیو خونو ته ځي یا روغتونونو کې بستر کیږي.

ایا د مونوکلونل انټي بادي درملنې اړخیزې اغیزې شته؟

پدې د خپل ډاکټر سره بحث وکړئ. ترټولو عامې اړخیزې اغیزې زړه بدوالی او کانګې کول دي. نورې اړخیزې اغیزې کیدای شي: اسهال، سرګرځیدنه، سر درد، خارښت، د وینې لوړه شکره، سینه بغل، او الرژیکي غبرګون وي.
تاسو ښایي په هغه ځای کې لنډ مهاله درد، وینه بهیدنه، زخم، درد، پرسوب او انتان هم ولرئ چیرې چې تاسو ستنه لګوئ.

زه څنګه کولای شم د مونوکلونل انټي بادي درملنه وکړم؟

ستاسو ډاکټر کولای شي تاسو ته ووایي چې آیا د مونوکلونل انټي بادي درملنه تاسو لپاره سمه ده که نه او تاسو د درملنې لپاره ولیږي. سمدلاسه له خپل ډاکټر سره خبرې وکړئ که:

- ستاسو د کووډ-19 ټسټ مثبت شي، یا
- په شئ چې تاسو د هغه چا شاوخوا واست چې کووډ-19 لري.

څوک د مونوکلونل انټي باډۍ درملنه ترلاسه کولای شي؟



که ستاسو د کووډ-19 ټسټ مثبت شوی وي —

نو د مونوکلونل انټي باډي درملنه 12 کلنو او تر دې ډېر عمر لرونکو خلکو ته ورکول کیدای شي کوم چې:

- د کووډ-19 ټسټ يې مثبت شي. يو مثبت ټسټ پدې معنی دی چې تاسو کووډ-19 لرئ. پدې کې هغه خلک هم شامل دي چې د کووډ-19 پېچکارۍ يې کړي،
- د 10 يا لږو ورځو پورې د کووډ-19 له خفیفو تر معتدلو نښې نښانې (نښې) ولري،
- د کووډ-19 درملنې لپاره په روغتون کې بستر کیدو ته اړتیا نلري، او
- د "لوړ خطر" په ګروپ کې وي. د لوړ خطر درلودل پدې معنی دي چې که تاسو په کووډ-19 اخته شئ، تاسو ښايي سخت ناروغ شئ، په روغتون کې بستر شئ يا حتی مړ شئ. که تاسو ډاډه نه ياست چې تاسو لوړ خطر کې ياست، نو له خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو په لوړ خطر کې ياست که:

- تاسو 65 کلن يا ترې مشر ياست. دا مهمه نده چې تاسو دې نورې روغتيايي ستونزې ولرئ.
- تاسو له 55 څخه تر 64 کلونو پورې عمر لرئ او لرئ: د زړه او رګونو ناروغي، لوړ فشار، د سږو بندوونکې اوږدمهاله ناروغي (COPD) يا بله جاري تنفسي ناروغي.
- تاسو 12-17 کلن ياست او لرئ: د عصبي پرمختګ اختلالات، څربښت، د زړه ناروغي، د سيکل سيل ناروغي، سالنډۍ يا بله اوږدمهاله تنفسي ناروغي.
- تاسو 12-17 کلن ياست او د يوه طبي وضعيت له وجې په ټيکنالوژۍ تکيه کوئ. د ټيکنالوژۍ ځينې بېلګې د تغذيې ټيوبونه، کيټيټرونه، او tracheostomies دي.
- که د هر عمر ياست او د شکر ناروغي، څربښت، د پښتورګو ناروغي، يا نورې جدي رواني ناروغۍ لرئ.
- تاسو امیدواره ياست.
- ستاسو ډاکټر وايي چې که چېرې تاسو درملنه ونه کړئ نو د دې خطر ډېر دی چې تاسو به ناروغ شئ يا به روغتون کې بستر شئ.

که ستاسو د کووډ-19 ټسټ مثبت شوی نه وي —

تاسو ښايي و توانېږئ چې د کووډ-19 د مخنيوي لپاره د مونوکلونل انټي باډۍ درملنه ترلاسه کړئ که:

- تاسو په تېرو 4 ورځو کې د يو چا شاوخوا واست چې کووډ-19 لري،
- تاسو يو جدي طبي وضعيت لرئ، او
- لږترلږه له دې شيانو څخه يو يې ريښتيا دی:
  - تاسو په بشپړه توګه واکسين شوي نه ياست. دا پدې معنی ده چې تاسو خپل ټول معمول کووډ-19 پېچکارۍ ندي لګولي.
  - تاسو په بشپړ ډول واکسين شوي ياست، خو ستاسو ډاکټر فکر نه کوي چې ستاسو بدن به د کووډ-19 سره مبارزه کې ښه دنده ترسره کړي.
  - تاسو د نورو ډېرو خلکو سره ژوند کوئ. بېلګې يې د زړو پالنټونونه، رواني روغتونونه، او د استوګنې دولتي مرکزونه (د هوټلي او پوټومیک مرکزونه) دي.

د مرستې او نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره

د مرستې ترلاسه کولو لپاره:

د GoVax ملاتړي مرکز ته زنګ ووهئ یا له بل کس وغواړئ چې ستاسو پرځای زنګ ووهي:

د مونوکلونل انټي باډي درملنې په اړه د نورو معلوماتو لپاره:

لاندینی QR کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)، یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/faqs/#faqMA

وروستي خبرونه:

په ټویټر کې @GoVAXMaryland تعقیب کړئ.

د لاندینې QR کوډ په کارولو سره د بریښنایي خبرلیکونو لپاره نوم لیکنه وکړئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)، یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine/govax/

که زه کوم ډاکټر ونلرم نو بیا؟

که تاسو کوم ډاکټر ونلرئ یا غواړئ ځان د درملنې لپاره راجع کړئ، تاسو کولای شئ:

- په 1095-459-443 د فیرسټ کال (FirstCall) طبي مرکز ته زنګ ووهئ. پرانستی د دوشنبې–جمعې له 8 a.m.–5 p.m.
- د مونوکلونل انټي باډي زنګ مرکز ته په 6122-649-410 زنګ ووهئ. پرانستی د دوشنبې–جمعې له 8 a.m.–5 p.m.
- دلته د یوه ډاکټر سره ویډیویي زنګ تنظیم کړئ: www.medstarhealth.org/services/telehealth/evisit، یا
- په دې ویب پاڼې لینک کې فورمه ډکه کړئ او یو ځوک به تاسو سره اړیکه ونیسي: tinyurl.com/yc367h9t.

که تاسو ته مناسبه وي نو دوي به درته ووایي چې چیرې د درملنې لپاره لاړ شئ. په مریلینډ کې په لسګونو ځایونه د مونوکلونل انټي باډي درملنه چمتو کوي.

ایا زه باید د مونوکلونل د انټي باډي درملنې لپاره پیسې ورکړم؟

تاسو اړ نه یاست چې د درملو لپاره پیسې ورکړئ.

خو ستاسو د درملنې لپاره کېدای شي فیسونه وي.
ستاسو بیمه ښایي دا فیسونه تادیه کړي. د بیمې شرکت سره مو یې وپلټئ.

د تولنیز ژوند لپاره د متحده ایالاتو د اداري، د روغتیا او بشري خدمتونو د څانګې، Washington, D.C. 20201 لخوا د CFDA 93.630 شمیري تخصیص له لارې د دې پروژې یوې برخې ملاتړ شوی وو. هغه امتیاز اخیستونکي چې د دولت د سپانسرشپ سره په پروژو لاس پورې کوي، هڅول کېږي چې خپلې موندنې او پایلیزې په آزادانه توګه څرګندې کړي. ځکه خو، اندونه یا نظرونه هرومرو د ACL رسمي پالیسۍ استازیتوب نکوي.

COVID-19 FYI

Maryland Developmental Disabilities Council
CREATING CHANGE · IMPROVING LIVES

Maryland
DEPARTMENT OF HEALTH

د کووډ-19 ټسټ کول ځان او نور خوندي وساتئ!

ولې د کووډ-19 ټسټ کول مهم دي؟



ټسټ کول د کووډ-19 د خپریدو په کنټرولولو کې مرسته کوي ترڅو مونږ بیرته خپل عادي ژوند ته ستانه شو. د یوه ټسټ ترسره کول د دې لپاره دي چې معلومه کړئ چې په کووډ-19 خو به اخته نه یاست.

تاسو باید پوه شئ ځکه چې که تاسو په کووډ-19 اخته شئ نو چې د ځان پاملرنه وکړای شئ او نورو خلکو ته یې له لېږدولو مخنیوی وکړئ.

څوک باید د کووډ-19 یو ټسټ وکړي؟

تاسو باید ټسټ وکړئ که:

- تاسو د کووډ-19 نښې نښانې لرئ. دا ریښتیا ده حتی که د کووډ-19 پیچکارئ مو لا دمخه هم لګولي وي. نښې نښانې داسې نښې دي لکه تاسو چې ناروغ یاست. د کووډ-19 ځینې نښې تبه، ټوخی او په تنفس کولو کې ستونزې دي. ټولې نښې نښانې په دې ویب پاڼه کې لست شوي دي:
  https://covidlink.maryland.gov/content/faqs/#faq1
- تاسو هغه چا سره نږدې واست چې کووډ-19 لري. دا پدې معنی ده چې تاسو د 15 یا ډېرو دقیقو لپاره دوي ته 6 فوټه یا لا نږدې واست.
- د کووډ-19 پیچکارئ مو نه دي لګولي او په داسې فعالیتونو کې مو برخه اخیستې وه چې پکې نورو خلکو سره نږدې واست. بېلګې یې د خلکو لویو ګروپونو سره سفر کول او ورسره په کور دننه پاتې کېدل دی.

د خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ که نه پوهیږئ چې تاسو باید ټسټ وکړئ.

د کووډ-19 ټسټ څه شی دی؟



ټسټ ډېر لږ وخت نیسي. معمولاً، پدې کې ستاسو پوزې ته په لنډه توګه د یوه سواب (q-tip) دننه کول شامل دي. بیا، سواب لابراتوار ته لیږل کیږي ترڅو د کووډ-19 یې وازمایل شي. ډېرئ خلک وایي چې دا یو څه نا آرامه کوونکی دی.

ډېرئ خلک د خپل ټسټ پایلې په 1-2 ورځو کې ترلاسه کوي. معمولاً، تاسو باید خپلو پایلو ترلاسه کولو څرنګوالی غوره کړئ. دا ښایي یو متن، بریښنالیک یا تلیفوني زنګ وي.

زه د کووډ-19 ټسټ څنګه وکړم؟

ځان سره نږدې یو ټسټ وموئ

د 300 څخه ډېر ځایونه شته چې په مریلینډ کې د کووډ-19 یو ټسټ ترلاسه کړئ. دا پدې معنی ده چې تاسو ته نږدې ځایونه شته! د یوه داسې ځای موندلو لپاره چې پکې ټسټ شئ د QR دا کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)

یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://covidtest.maryland.gov

د ګرځنده کلینیک ټسټ کول

سازمانونه کولای شي د یوه ګرځنده کلینیک څخه وغواړي چې د دوي موقعیت ته د ټسټ کولو لپاره ورشي.

د ګرځنده کلینیک غوښتلو لپاره: 855-MD-GoVAX (855-634-6829) ته زنګ ووهئ

یا د دې QR کوډ په کارولو سره یو غوښتنلیک ډک کړئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ)

یا دا ویب پاڼه وګورئ:
https://governor.maryland.gov/govaxmobile/

ایا زه باید د کووېډ-19 ټسټ لپاره پیسې ورکړم؟

معمولاً، تاسو اړ نه یاست چې د کووېډ-19 ټسټ لپاره پیسې ورکړئ. د هغه ځای سره یې وپلټئ چې تاسو غواړئ پکې ټسټ ترلاسه کړئ ترڅو معلومه کړئ چې کوم لګښت خو به نلري. که چیرې لګښت ولري، د خپلې روغتیایي بیمې شرکت سره اړیکه ونیسئ ترڅو معلومه کړئ که هغوي پیسې ورکړي. که تاسو د مریلینډ میډیکېډ لرئ، نو هغه به د ټسټ پیسې ورکړي.

ایا زه په کور کې د کووېډ-19 ټسټ ترسره کولای شم؟

هو، **د کووېډ-19 ټسټونه شته چې تاسو یې په کور کې ترسره کولای شئ.** تاسو په 15 دقیقو کې پایلې ترلاسه کوئ. تاسو کولای شئ دا ټسټ له درملتونونو او ځینو پلورنځیو څخه له نسخې پرته ترلاسه کړئ. د دوه ټسټونو لګښت معمولاً $ 20 یا ډیر وي. ځینې وختونه، روغتیایي ځانګې په کور کې د کارولو لپاره د ټسټ وړیا کټونه ورکوي. د خپلې کاونټی د روغتیایي ځانګې سره یې وپلټئ.

که د کووېډ-19 ټسټ مې مثبت شي نو څه باید وکړم؟

که ستاسو ټسټ مثبت وي، نو دا پدې معنی ده چې تاسو کووېډ-19 لرئ. تاسو باید:

- خپل ډاکټر ته ووایاست او د خپلې ناروغۍ پر مهال د دوي سره په اړیکه کې پاتې شئ.
- لږترلږه د 10 ورځو لپاره په کور کې پاتې شئ او د نورو خلکو څخه لرې اوسئ.
- هغو خلکو ته ووایاست چې تاسو ورسره نېږدې اړیکه درلوده. دوي ښایي ستاسو په شاوخوا کې د پاتې کېدو له امله په کووېډ-19 اخته شوي وي. دوي اړتیا لري پوه شي ترڅو دوي مهم ګامونه پورته کړای شي، لکه د ټسټ کول او له نورو خلکو لرې پاتې کېدل.

د مرستې او نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره

وروستي خبرونه:

د بریښنایي خبرلیکونو لپاره د نوم لیکنې په موخه د QR دا کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ) یا دا ویب پاڼه وګورئ:

https://covidlink.maryland.gov/content/vaccine/govax/

په ټویټر کې @GoVAXMaryland تعقیب کړئ.

مرسته او نور معلومات:

تاسو زنګ ووهئ: 855-MD-GoVAX (855-634-6829)

د QR دا کوډ وکاروئ (د خپل تلیفون کیمره د کوډ مربع ته برابره کړئ او په خپل سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ).

یا دا ویب پاڼه وګورئ:

https://covidlink.maryland.gov/content/testing/

د ټولنیز ژوند لپاره د متحده ایالاتو د اداري، د روغتیا او بشري خدمتونو د څانګې، Washington, D.C. 20201 لخوا د CFDA 93.630 شمیرې تخصیص له لارې د دې پروژې یوې برخې ملاتړ شوی وو. هغه امتیاز اخیستونکي چې د دولت **د سپانسرشپ سره په پروژو لاس پورې کوي، هڅول کېږي چې خپلې موندنې او پایلیزې په آزادانه توګه څرګندې کړي. ځکه خو، اندونه یا نظرونه هرومرو د ACL رسمي پالیسۍ استازیتوب نکوي.**